دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

فرمان الهی

ای کسانی که ایمان آورده اید خود و خانواده خویش را از آتشی که هیزم آن انسانها و سنگهاست نگه دارید؛ آتشی که فرشتگانی بر آن مؤظف شده که خشن و سختگیرند و هرگز مخالفت فرمان خدا را نمی کنند و آنچه را فرمان داده شده اند (به طور کامل) اجرا می نمایند!

(سورة التغابن، آیت ٦)

نبوی ارشاد

له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

کوم سړی چې د لمونځ اهتمام وکړي نو د قیامت په ورځ لمونځ د هغه لپاره رڼا گرځي، د حساب په وخت ورته دلیل گرځي او د نجات سبب ورته جوړیږي، او کوم سړی چې د لمونځ اهتمام ونکړي، د هغه لپاره به د قیامت په ورځ نه رڼا وي، نه دلیل او نه هم د نجات ذریعه، هغه به له فرعون، هامان او ابی بن خلف سره پاڅیږي.

(مشکواة)

شهادت دویم کال، ۵۹ مه گڼه، چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د غبرگولی ۵ مه د۱۴۳۱ هـ ق د جمادی الاخر ۱۲ مه د۲۰۱۰ م د می ۲۲ مه

نگرانی ارتش امریکا از حملهٔ مجدد طالبان به پایگاه بگرام

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسانه ها:

بدنبال حمله انتحاری اخیر گروهی ازطالبان به پایگاه نظامی امریکا در بگرام، نظامیان امریکایی وافغانی گشت‌های حفاظتی خود ازاین پایگاه نظامی را به شدت افزایش داده‌اند.

آژانس خبری اسوشیتدپرس گزارش می دهد نیروهای امنیتی افغانستان ونظامیان ارتش امریکا پس ازگذشت چندین روز از حمله گروهی طالبان به پایگاه نظامی امریکا درمنطقه بگرام همچنان از این پایگاه نظامی محافظت می کنند زیرا متحمل است، که نیروهای طالبان بار دیگر به این پایگاه امریکایی در خاک افغانستان حمله کنند و نیروهای خارجی را به کام مرگ بفرستند.

مقامات پولیس ملی در این باره گفتند که به دنبال حمله هفته گذشته نیروهای طالبان به پایگاه نظامي بگرام، تدابیر امنیتی شدیدی توسط پولیس به اجرا در آمده است تا جایی که نیروهای پولیس این کشور با گذشت بیش از چند روز از این حمله انتحاری، همچنان در منطقه حضور دارند و ورود و خروج افراد در این منطقه را نظارت می کنند.

بر اساس اظهارات برخی از مقامات نظامی افغانستان، نیروهای افغانی در حالی به گشت‌های امنیتی خود در اطراف پایگاه نظامی امریکا افزوده‌اند که مدت زیادي از حمله انتحاري ۲۰ نفر از شبه نظامیان طالبان به این پایگاه نظامي گذشته است اما انتظار مي‌رود که حمله دیگری از سوی اعضای طالبان به این منطقه صورت گیرد.....

بقیه در صفحه ۴

عملیات نظامی بخاطر بیرون راندن طالبان از قندهار، یک اقدام خطرناک است

عملیات نظامی اداره بارک اوباما به خاطر بیرون راندن طالبان از قندهار یک اقدام خطرناک است که حتی طراحان این عملیات در مورد موفقیت آن مطمین نیستند.

این موضوع را روزنامه واشنگتن پست به تحلیل گرفته است و می نویسد:

هدف عملیات قندهار که از حمایت هزاران عسکر و ملیارد ها دالر امریکایی بر خوردار است، این است تا جذبه و روحیه شورشیان طالب را بشکند و در عوض شرایط جنگی را به شکل تغییر دهد که استراتیژی اداره فعلی امریکا را در افغانستان با اعتبار بسازد.

برای نتایج این عملیات یک ضرب العجل کوتاه تعیین شده است، بدین معنی که مقامات امریکایی پیش بینی می کنند که ارزیابی این عملیات و به صورت کل بررسی استراتیژی امریکا در ماه دسامبر معلوم خواهد ساخت که آیا خروج ....

بقیه در صفحه ۴

نادرفرهاد: له ایران او پاکستان څخه د افغان کډوالو راستنېدل زیات شوی

په داسې حال کې، چې د افغانستان له بیلابیلو سیمو څخه د ناامنیو او نورو ستونزو راپوررونه ورکول کیږي، ویل شوي، چې له پاکستان او ایران څخه د افغان مهاجرو د بېرته راستنېدو بهیر گړندی شوی دی. د کډوالو په چارو کې د ملگرو ملتونو اداره وایي، چې په تېرو دوو میاشتو کې له پاکستان څخه اته څلوېښت زره او په پنځو میاشتو کې له ایران څخه دوه زره افغان کډوال په خپله خوښه خپل هېواد ته را ستانه شوي دي.

په کابل کې د دې ادارې ویاند نادر فرهاد د دوشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل، چې دغه افغان کډوال تردېره کابل او د افغانستان ختیځو ولایتونو ته راستانه شوي او هڅه کیږي، چې دوی ته د اوسیدو لازمي اسانتیاوې برابرې شي.

"په روان کال کې مونږ پلان لرو، چې کابو شپاړس زرو کورنیو ته د کور جوړولو لپاره ساختماني مواد ورکړو.

د دې ترڅنګ هر راستنېدونکي کډوال ته سل امریکایي ډالره هم د راستنېدو په وخت کې ورکول کیږي."

نادرفرهاد وویل، چې په بېرته راستنیدو کې له هرې کورنۍ سره یوه اندازه مرسته هم کیږي ترڅو دوی خپلو سیمو ته په ستنېدو کې له مالي ستونزې سره مخامخ نه شي.

خو له پاکستان او ایران څخه یوشمېر راستانه شوي کډوال شکایت کوي، چې له دوی سره لازمه مرسته نه کیږي او په افغانستان کې بې کاریو او نورو ستونزو ته په کتو سره د هرې ورځې په تیرېدو سره د دوی ستونزې لاپسې ډېرېږي.

خو د یو، ان، ایچ، سي، ار....

پاتی ٤ مخ

کوچیان: موږ به هیڅکله د هزاره جاتو له څرځایونو څخه لاس وا نه خلو

تیرو څو کلونو راهیسې پیل شوې ده چې له امله یې څو ځلې نښتې هم شوې.

وروسته له هغې چې وروسته حامد کرزي د میدان وردگو په بهسود او دایمرېداد ولسوالیو کې د کوچیانو او ځایي هزاره گانو ترمنځ د لانجې د حل لپاره نوي فرمان صادر کړ، د کوچیانو یو شمېر استازو خبرداری ورکړ، چې په هزاره جاتو کې به له څرځایونو او خپلو ځمکو لاس وانه خلي.

دوی په کابل کې د یوې غونډې په ترځ کې د ولسمشر د فرمان چې په هغې کې کوچیانو ته د ځمکو د ورکولو حکم شوی، هر کلی وکړ خو ویې ویل، چې دا باید په دې معنې نه وي چې دوی په هزاره جاتو کې د خپلو ځمکو پرېښودلو ته اړ کړای شي.

په ولسي جرگې کې د کوچیانو استازي ملا تره خیل کوچي وویل، کوچیانو په دغو سیمو کې د خپلو ځمکو شرعي قوالې لري.

د کوچیانو یو شمېر قومي مشران وایي، چې په هزاره جاتو کې د خپلو ځمکو او له څرځایونو څخه د استفادې لپاره د داود خان، محمد ظاهر شاه او امان الله خان د وخت قوالې او فرمانونه لري.

خو بل خوا د هزاره توکم ځینې مشران استدلال کوي چې په هزاره جاتو کې نفوس او اړتیاوې یې ډیرې شوې دي.

ولسمشر حامد کرزي په دغو سیمو کې د ځمکو او څرځایونو پر سرد کوچیانو او هزاره ترمنځ د لانجې د حل لپاره وروسته له هغې نوی فرمان صادر کړ چې دواړو خواو د میدان وردگو په بهسودو ولسوالۍ کې نښته وکړه، دا سیمه هزاره جاتو ته د کوچیانو د ورتگ لاره بلل کیږي.

په دې فرمان کې چې تېره اونۍ صادر شو له کوچیانو غوښتل شوي چې له لانجمنو سیمو په شا شي همدا راز....

پاتی ٤ مخ

خروج نیروهای خارجی؛ انگیزهٔ خود کفایی نیروهای امنیتی داخلی

صفحه دوم

بریتانیا در تلاش برای رهایی از باتلاق افغانستان است

کابل، رسانه های خبری :

وزیر دفاع دولت جدید ائتلافی بریتانیا تاکید کرد که سربازان انگلیسی باید در کوتاه ترین مدت ممکن از کشور افغانستان ، خارج شوند.

روزنامه واکیت ترکیه گزارش داد "لیام فاکس " وزیر دفاع دولت جدید ائتلافي انگلیس پیش از بازدید از افغانستان به همراه "اندرو میشل " وزیر انکشاف بین المللي و "ویلیام هیگ " وزیر امور خارجه انگلیس، در گفت‌وگو با روزنامه تایمز چاپ لندن اظهار داشت که سربازان انگلیسي باید از افغانستان در کوتاه ترین مدت ممکن خارج شوند.

وی گفت که انگلیس ژاندارم دنیا نیست و تنها برای جلوگیری از تهدیداتی که متوجه مردم انگلیس و منافع این کشور است در افغانستان حضور دارند.....

بقیه در صفحه ۴

روسیې امریکا ته د نشه یي توکو د سترو قاچاقچیانو د نومونو لیست سپارلی

د روسیې د نشه یي مواد ضد ادارې چارواکي وایي، چې امریکایي مقاماتو ته یې د افغانستان او منځنۍ اسیا د مخدرو موادو د سترو قاچاقبرانو د نومونو لیست ورسپارلی دی.

روسي چارواکو د امریکا د نشه یي موادو پرضد د مبارزې د ادارې مسوول مقام ته د دې لیست د سپارلو ترڅنګ په افغانستان کې پر مېشتو نړیوالو ځواکونو..

د روسیې د نشه یي موادو ضد ادارې مشر ویکتورایوانوف وایي، چې ده د امریکا د نشه یي موادو پرضد د مبارزې د پالیسی د ادارې مشر گیل کېرلیکوفسکي ته د نشه یي موادو د هغو نهو سترو قاچاقبرانو لیست سپارلی، چې په افغانستان یا د منځنۍ اسیا په نورو هېوادونو کې اوسیږي. د ده په وینا دا کسان د مخدرو موادو په عمده قاچاق کې لاس لري.

دغه روسي مقام په مسکو کې یوې خبرې غونډې ته وویل، چې ده له ښاغلي کېرلیکوفسکي سره د مسکو په هوایي ډگر کې هغه مهال وکتل او یادشوی لیست یې وروسپاره، چې د سویډن مرکز ستاکهولم ته د سفر پرلاره یې په مسکو کې توقف لاره. دا په څه کم یوه کال کې د دوی دواړو څلورمه کتنه ده.

ویکتورایوانوف څرگنده کړه، د دغه ادارې له دې مخکې هم امریکایي چارواکو ته د نورو پنځه ویشتو قاچاقبرانو نومونه او په افغانستان کې د نشه یي موادو د یوسل او پنځه اویا لابراتوارونو په اړه معلومات سپارلي دي.

نوموړي زیاته کړه، ...

پاتی ٤ مخ

د افغانانو په وړاندې له سولې پرته بله لاره نشته

دریمه مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

ښوونکی د ټولنې معمار دی

د غبرگولی (جوزا) ۳ مه په هیواد کې د معلم یا ښوونکی له ورځی سره برابره وه. دا ورځ هر کال په ټول هیواد کې ښه توده نمانځل کیږي. سږ کال هم معارف او له معارف سره مینه والو دغه ورځ په پوره مینه ونمانځله.

د افغانستان د پوهنې وزیر په هیواد کې د ښوونکی د ورځې په مناسبت د ښوونکو په نامه یو پیغام خپور، او ښوونکو ته ددغې ورځې د مبارکی سربیره هغوی خپلو دندو او رسالتونو ته متوجه کړل.

په دې کې شک نشته چې د ښوونکی (معلم) مرتبه په ټولنه کې ډېره اوچته او د احترام وړ ده. پخپله آخري نبي محمد صلی الله علیه وسلم چې د ټولو انبیاو سردار دی معلم و، هغه فرمايي چې زه د الله تعالی له لورې د ښوونکی په توگه استول شوې یم تر څو د غوره اخلاقو د تکمیل فریضه ترسره کړم.

د محمد صلی الله علیه وسلم له دې مبارک حدیث نه دا مطلب ترلاسه کیږي چې ښوونکی په حقیقت کې د ټولنې د اصلاح او د غوره اخلاقو د بشپړولو دنده په غاړه لري.

ښوونکی اصلاً هغه ستره وظیفه او دنده پرمخ بيايي چې د الله رسول محمد صلی الله علیه وسلم پرمخ بوتلو.

الله جل جلاله پخپل کتاب قرآن کریم کې د محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت مقصد دا بیان کړی دی چې هغه صلی الله علیه وسلم انسانانو ته د الله آیتونه اوروي، دهغوی د نفسونو تزکیه کوي او هغوی ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي. (آل عمران: ۱۶۴)

د قرآن کریم لدې لارښوونی څخه څرگند شو چې د محمد صلی الله علیه وسلم بعثت دې مقصد لپاره و چې د انسانیت اخلاق او کړنې سمې کړی، په ټولنه کې شته د بدو اخلاقو جرړی وباسي او پر ځای غوره اخلاقو او ښو کړنو ته وده ورکړي.

محمد صلی الله علیه وسلم خپل دغه دنده نه یواځې دا چې د قول او د عمل په ډگر کې ترسره کړه بلکې خپل امت ته هم لارښوونه وکړه چې د قیامت تر ورځې په دې باندې عمل وکړي.

دا چې ښوونکې په ټولنه کې د اصلاح او غوره اخلاقو د رواجولو ستر مسؤولیت په غاړه لري نو هغه ته پکار دي چې لومړی پخپل ځان کې نبوي اخلاق پیدا او پخپلو خبرو او کړنو کې دا ثابت کړي چې هغه د غوره اخلاقو څښتن دی، ځکه چې یو ښوونکی تر هغه خپل شاگردان د غوره اخلاقو په گاڼه نشي سنبالولی تر څو چې پخپله نه وي سنبال شوی.

شاگرد هر څه له استاد نه زده کوي او دهمغه خوی او اخلاق خپلوي، که استاد واقعاً د غوره اخلاقو نمونه وي، دیانت دار، ایماندار، مهربان، عادل، زیارکښ او تقوی دار وي نو شاگرد ضرور دهغه تقلید کوي او د غوره اخلاقو څښتن گرځي.

انسان که په مادی ډگر کې څومره مخکې ولاړ شي بیا هم تر هغه نیمگړی دی تر څو چې هر څه د اخلاق او کردار په چوکات کې نه وي ځای کړی.

اخلاق هغه اوچت قوت دی چې انسان تل لپاره له منفي فکر او بل چاته د ضرر رسونې له سوچ نه منع کوي، همدا اخلاق دی چې انسان واقعاً د انسانیت لوړ معراج ته رسوي او هغه لوی مقصد ته سوقوي چې الله جل جلاله دهغه لپاره خلق کړیدي.

له بده مرغه د افغانستان تعلیمی اداری په دې بهانه چې شرایط ورته برابر نه دي تر نه په دې نه دي توانیدلی چې زده کوونکی په هغه معیار وروزي څنگه چې حق یې دی او هغه مقاصد ترینه ترلاسه کړي د کوم مقصد لپاره چې روزل کیږي.

په دې حقیقت باید په وازه کومی اعتراف وکړو چې ډېر استاذان د ښوونې او روزنې له هغو مواصفاتو څخه محروم دي کوم چې د یو ښوونکی لپاره ضروري دي. زیاتره استاذان له خپلې دندی سره مینه نه لري د شاگردانو د پوهولو لپاره په ځان سختي نه تیروي، په ټولگیو کې له شاگردانو سره بی مقصده خبرې اترې، او هسی ساعت تیری کوي، ځکه خو د دولسم ټولگی ان چې د پوهنتونونو څخه فارغ شوي شاگردان نوي په سلو کې صحیح لیک او لوست نشي کولې. شاگرد ته د دولسم یا شپاړلسم سند اخستل مطلوب نه دی بلکې هغه معیار مطلوب دی چې د هیواد په ادارو، دفاترو او ښوونځیو کې صحیح خدمت وکړي او د ژوند په هر ډگر کې خپل قابلیت او جوهر وښايي. یواځې معیاري ښوونکی کولی شي معیاري شاگردان وروزي. تر څو چې معیاری استاذ نه وي د معیاري شاگرد روزل ناشونی دی، نو ځکه د هیواد د محترم معارف وزیر پاملرنه دې لوری ته اړوو چې په تعلیمی ادارو کې دی د استاذ قابلیت، کردار او دهغه زیار او کوښښ تر کلکې څارنې لاندی ونیول شي او هغو استاذانو ته دې سخته سزا ورکړی شي چې له خپلو دندو څخه غفلت کوي او هغو استاذانو ته دې مکافات ورکړی شي چې خپله دنده په سمه توگه ترسره کوي. له ښوونځیو، لیسو او پوهنتونو څخه دی واقعاً د علمي او اخلاقي مرکزونو په صفت گڼه اوچته کړی شي. د شاگردانو ښوونه او روزنه دی په داسې اوچت معیار سره وشي چې راتلونکی لپاره د افغانستان د خدمت مصدر وگرځي، د نیک کردار او نیکو اخلاقو نمونه وي، تر څو راتلونکی نسل د علم، پوهې او غوره اخلاقو په وسله سنبال او د نیکمرغه ژوند څښتنان شي.

خروج نیروهای خارجی؛ انگیزۀ خود کفایی نیروهای امنیتی داخلی

اعزامی

چندی قبل بحث واگذاری امنیت افغانستان به نیروهای داخلی، محراق توجه وزرای خارجه سازمان اتلانتیک شمالی (ناتو) در تالین پایتخت کشور استونی بود و این مسأله درین روزها یکی از محورهای اصلی گفتگوهای جامعه بین المللی در رابطه به قضیۀ افغانستان گردیده است، گرم شدن این مباحث از زمانی آغاز شد که جناب حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان چند ماه قبل در کنفرانس لندن طرح مصالحه ملی با مخالفین دولت را با قوت مطرح کرد که مورد تایید مشترکین کنفرانس قرار گرفت. از جانب دیگر یکتعداد کشورهای غربی که در افغانستان نیرو دارند، از جانب مردم شان زیر فشار قرار دارند که عساکر آنها هر چه زودتر از افغانستان خارج شوند. چنانچه دولت های کانادا، هالند و جرمنی بنابر فشار ذهنیت عامه تصمیم گرفته اند که سال آینده نیروهای شان را از افغانستان به کشورهای خویش برگردانند. همچنان بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحده امریکا نیز حین اعلان ستراتیژی جدید خود در رابطه به حل بحران افغانستان، در پهلوی اعزام... سه عساکر تازه نفس، بر خروج مرحله وار عساکر امریکایی از جولای سال ۱۹۱۱ تأکید کرد. بناءً طرح مصالحه جناب حامد کرزی با مخالفین سیاسی از یکسو و تهدید بعضی از کشورهای اروپایی مبنی بر عدم تمدید حضور نیروهای شان از سال ۱۹۱۱ ببعد و نیز اعلان بارک اوباما مبنی بر خروج تدریجی نیروهای امریکایی عوامل و انگیزه های عمده ای اند که جامعه بین المللی و در رأس ایالات متحدۀ امریکا را واداشته که تمام تلاش خویش را در جهت خود کفایی نیروهای امنیتی افغانستان بکار ببرند.

ایجاب می کرد که مسؤولیت واگذاری تأمین امنیت افغانستان به نیروهای داخلی، در همان سال های اول پس از موافقتنامۀ بن، به اردو و پولیس ملی تحویل داده می شد، مگر خارجی بنابر دلایل نامعلومی این کار را چند سال قبل نکردند و اکنون که جنگ با مخالفین ابعاد وسیع گرفته و جامعه جهانی از عملیات نظامی نیروهای خود در افغانستان نتیجه دلخواه نگرفتند، حالا به این ضرورت پی برده اند. بهر حال این تحول در جریان سه و نیم دهه بحران کشور ما، از اهمیت ویژه ای برخوردار است و گشایش فصل جدیدی در مناسبات افغانستان با دنیای خارج به حساب می رود و بدون شک این تحول می تواند اثرات قابل ملاحظه ای در امر فروکش کردن بحران و تأمین امنیت در زندگی مردم بجا بگذارد.

زیرا با واگذاری امنیت به نیروهای داخلی و خروج نیروهای خارجی از افغانستان نتایج مثبت ذیل در حیات سیاسی و اجتماعی مردم ما مرتب می شود:

۱- حساسیت های داخلی بالاخص تبلیغات مخالفین مسلح، نسبت به حضور نیروهای خارجی و تلفات و خسارات ناشی از عملیات های هوایی و زمینی آنها کاهش می یابد.

۲- ظرفیت و توانائی نیروهای داخلی برای حفظ استقلال، تمامیت ارضی و تأمین امنیت بالا رفته و به تدریج بسوی خودکفایی گام می گذارند.

۳- شعارها و انگیزه های قوی مخالفین مسلح برای سربازگیری درمیان مردم، خنثی شده و روز تا روز رابطه ملت و دولت نزدیکتر شده میرود.

٤- همزمان با خروج نیروهای خارجی، قطعات و جز و تام های اردوی ملی و پولیس ملی افغانستان، با اسلحه مدرن و کارآمد مجهز شده و نیرومندی و پرستیژ گذشته قوای مسلح افغانستان اعاده میشود.

۵- قوای هوایی و مدافع هوایی افغانستان که تا هنوز فعال نمی باشد، بنابر ضرورت اشد به آن فعال خواهد گردید.

٦- کاهش و یا قطع تلفات نیروهای خارجی موجب می شود که جامعه جهانی در امر بازسازی، انکشاف اقتصادی و تربیه و تجهیز نیروهای داخلی سهم فعال بگیرند.

۷- پس از خروج نیروهای خارجی، انجام عملیات های نظامی علیه مخالفین مسلح، مشروعیت یافته و مردم با مشارکت فعال از کشور خویش در برابر دشمنان دفاع می کند.

۸- حساسیت کشورهای منطقه از حضور نیروهای خارجی در افغانستان پایان یافته و همکاری آنها با افغانستان بیشتر می شود.

البته پیامد خروج نیروهای خارجی، زمانی برای ملت افغانستان ثمر بخش است که نخست این طرح با در نظر داشت شرایط عینی و ذهنی جامعه افغانی صورت بگیرد و از جانب دیگر ارمغان خروج، توانمندی و خودکفایی نیروهای امنیتی افغان باشد، در غیر اینصورت نتایج چنان خواهد گردید که ملت ما پس از خروج نیروهای قشون سرخ با آن مواجه شد.

موضوع خروج تدریجی قوای خارجی و انتقال مسؤولیت های امنیتی به نیروهای داخلی برای افغان ها، تقریباً یک مسألۀ اتفاقی است. ملت، دولت، کشورهای همسایه و جامعه جهانی همه به این مسأله اتفاق نظر دارند، آنچه که در آن جای بحث وجود دارد، عبارت است از چگونگی جریان خروج، ارزیابی عواقب آن، برخورد احتمالی مخالفین و ظرفیت نیروهای داخلی برای تأمین امنیت آینده کشور می باشد.

علی الرغم آنکه وزرای خارجه کشورهای عضو ناتو در تالین، خروج تدریجی نیروهای شان را منحیث یک طرح به تصویب رسانده اند، ولی از قراین چنان پیداست که نباید انتظار خروج عاجل نیروهای مذکور را داشت. زیرا مسؤولین نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان تأکید کرده اند که آنها پس از بعهده گرفتن مسؤولیت تأمین امنیت، به حمایت مستمر و فعال ناتو ضرورت دارند و ازین رو تعیین یک میعاد مشخص برای خروج کامل قوای خارجی کار دشوار است. آنچه که ثابت است، اینست که پس از پایان سال ۲۰۱۱ از رقم نیروهای خارجی در افغانستان کاسته می شود، زیرا یکتعداد کشورها عساکر رزمی شان را از افغانستان خارج کرده و در عوض وعده سپرده اند که در امر اکمالات، تربیه و تجهیز نیروهای داخلی سهم می گیرند. مسؤولیت تأمین امنیت مناطقی که شرایط در آنجاها مساعد باشد، به عساکر افغان سپرده شده و نیروهای خارجی به تدریج از بعضی ولایات خارج می شوند و بدین وسیله سران دول عضو ناتو خود را از زیر فشار تقاضاهای مفرط مردم خود رهایی می بخشند و هدف جناب حامد کرزی نیز مبنی بر به عهده گرفتن مسؤولیت کامل امنیتی از جانب افغانستان تحقق می یابد.

خروج نیروهای خارجی از افغانستان و واگذاری مسؤولیت تامین امنیت و دفاع از استقلال و تمامیت ارضی کشور به اردوی ملی و پولیس ملی افغانستان به عنوان یک مسأله مهم و سرنوشت ساز، هم در مذاکرات فیمابین جناب حامد کرزی و مقامات امریکایی در واشنگتن مطرح می شود و هم در جرگه ملی مشورتی صلح با نمایندگان مردم به شور و کنکاش گذاشته خواهد شد. زیرا خود کفایی و مسؤولیت پذیری نیروهای امنیتی و دفاعی افغانستان، رابطه مستقیم با همگرای و مصالحه ملی دارد، اگر برنامه مصالحه ملی جناب رئیس جمهور، طوریکه وعده آنرا قبلاً داده و در کنفرانس لندن نیز مورد تائید جامعه جهانی قرار گرفت، تحقق یابد؛ طبیعی است که یکی از پیامدهای مهم آن ختم جنگ، خصومت و بی نیازی به حضور خارجی ها و تقویه نیروهای داخلی می باشد. باخروج تدریجی خارجی ها، مخالفین ازمخالفت دست گرفته وجای خالی آنها را در همه عرصه ها مخالفین دیروز پر میکنند، ولی باید خاطر نشان شود که برای تعمیر ویرانه های افغانستان درتمام ابعاد به معمار چیره دستی ضرورت است که بامدیریت خوب خود ازهمه امکانات وظرفیت ها بهره برداری معقول نماید.

د افغانانو په وړاندې له سولې پرته بله لاره نشته

عبیدالله صافي

عام تاثر دا دی چې د غربي نړۍ په شمول د افغانستان ګاونډیان نه غواړي چې د دولت او مخالفینو ترمنځ د سولې خبری اتری کامیابې، او افغانستان کې امن راشي. امریکا تـه د ولسمشر پـه سفر کـې هـم امریکایي چارواکو له مخالفو څواکونو سره د سولې او روغې جوړې د پروسې چنـدان ملاتـړ نـه دی کـړی، صرف دومره یې ویلی دی چې کـوم مخالفین له جګړې نه لاس اخلي، وسـله پر زمکـه ږدي او اساسـي قـانون منـي هغوی لپاره د دولـت دروازی خلاصـی دي، دا هغه زوړ دریځ دی چې مخالفینو له لومړی ورځې نه رد کړی او دا یـې د تسلیمي مترادف ګڼلی دی. لنډه دا چې نړیوال تراوسه دیته نه دي حاضر شوي چې دهغوی لـه خوښـې پرتـه د سـولی خبرې اتری کامیابی شي په داسې حـال کې چې د افغانستان اولس د جنګ له دې تودې لوخړې څخه وتل، او د سولی په فضاء کې ژوند تیرول غواړي. افغانـان د جنـګ د تـداوم د خپلې ګټې په خلاف بولي او نه غواړي چې د جنـګ پـه اور کـې تـل لپاره وریت شي، نو ځکه افغانان حق لري چې د روغـی جـوړی او د سولې د تأمین لپاره پخپلـو کـې سـره راجرګـه شـي د اختـلاف ټکـي وڅیړي د یو بل غوښتنې تر غور لانـدی ونیـسي د هرچـا روا غوښـتنې ومني او یوې مثبتې نتیجې ته ورسیږي.

په دې کې شک نشته چې د افغانستان مطلـق اکثریـت لـه دولـت او مخالفینو ترمنځ مفاهمت او سوله غواړي له دواړو لوریـو څخـه کلکـه هیله کوي چې د اختلافاتو په اصلی ټکو رغنده خبری اترې وکړي او د یو بل دهغو غوښتنو قدر وکړي چې د اسلام، خاوری، استقلال او ولس په ګټه دي. افغانان په دې خبره ښه پوهیږي چې د جنګ او جګـړې لـه لارې په افغانستان کې سوله نشي راتلې او نه هم څوک ددې قدرت لـري چـې حالات د خپل ګټې په لور واړوي. ډېـر داسې ناوړه جنګونه او کوښښونه وشول چې جګړه پخپل ګټه وڅرخوي، په دې خاطر د نورو هیوادو څخـه یـې نظامـي ملاتړ وغوښت، په هیـواد کـې دننـه او باندې نامقدس ائتلافونه وشول خـو هـر چا ولیـد چـې دا هـر څـه ناکـام او بـې نتیجې شول، ځکه چې دا ټول د هیواد د اکثریت وګړو د ارمانونو او غوښتنو پـه خلاف و او د هیوادوالو غوښتنې له نظره غورځـول شـوی وی. همـدا لامل دی چې د تیرو دوه دیرشو کلـو راهیـسې افغـان اولـس د خپلـې خوښې حکومت او نظام په قائمولو کې بریالي نه شو.

مطلب دا چې تر هغې پـه افغانـستان کـې یـو مـضبوط حکومـت او غښتلي نظام نشي راتلی تر څو چې د اولس غوښتنې په پام کـې نـه وي نیول شوي، نو ځکه د افغانانو په شمول ټولو بهرنیو هیـوادو تـه پـه دې خبره ژور غور پکار دی چې که چېرته د تیـرو څـو لـسیزو راهیـسې د اولس د غوښتنو برعکس د زور، جبر او سـازش لـه لاری جـوړ شـوي حکومتونه په افغانستان کې د یو غښتلی حکومـت پـه جوړولـو نـه دي قادر شوي نو په اوس مهال دا څنګه ممکن کیدی شـي چـې د اولـسي وګړو د غوښتنو او دهغوی د یووالي او اتفاق پرته پـه افغانـستان کـې د امن او سولې فضا منځ ته راشي؟ بل څوک یې مني که نـه خـو افغانـان دي دا حقیقت ومني چې خپل منځي سـوله او روغـه جـوړه د افغانانـو حیاتي او مهم ضرورت دی، له سولې او ملي پخلاینـې پرتـه نـه پخپلـو پښو ولاړ مستحکم حکومت راتلی شي او نه هم اولس د خپلواک او آرام ژونـد خاوندان کیدلې شي. په سوله او یووالي کې د افغانانو بقا او ابـرو دی، یواځـې د سولې له لاری کولې شي چې د ژوند په هر ډګر کې پرمختګ وکړي او پخپلـو پښو ودریږي، د ګدایي کچکـول مـات او په نړۍ کې هسکه غاړه وګرځي.

دا واقعیت باید ومنو چې تر څـو مـوږ خپل مـسایل او اختلافـات پخپلـه حـل نکړو بل څوک یي د حللو کوښـښ نـه کوي بلکې هغوی هلې ځلې کوي چې زموږ ترمنځ د اختلافاتو خلیـج نور هم پراخ او خپلې ګټې پکې تأمینې کړي.

د نړۍ په سر افغانستان یواځینی اسلامي هیواد دی چې د څـو لـسیزو راهیسې د جنګ او جګړو په سرو لمبو کې وریتیږي. موږ ته کتل پکار دی چې آخر دا جنګونه او اختلافات په نورو اسلامي هیوادو کـې ولـې نشته، هلته د وړو او مختصرو موقتي جنګونو پرته پـه لکونـو مـسلمانان ولې نه مري، په لکونو کورونه یې ولی نه ورانیږي؟ له هغوی سره کومه نسخه ده چې له خپل منځي اختلافاتو او د یو بل د وژلو څخـه محفـوظ دي؟ هغوی ولې د ښه او آرام ژوند خاوندان دي، دهغوی اقتـصاد ولـې قوی شوې او د ژوند په مختلفو ډګرونو کې ولې پرمختـګ یـې کـړی دی؟ هغوی هم زموږ په څیر مـسلمانان دي، د الله کتـاب قرآنکـریم او نبوي احادیثو ذخیره زموږ په څیر له هغوی سره هم موجـوده ده، مګـر هلته قومي، ژبني او سمتي جګړې نشته، هلته ددین په تـشریح کـې لـه زغـم نـه وتلی اختلاف نه تر سترګو کیږي د یـو بل په خلاف د کفـر فتـوې نـه ورکـول کیږي، پخپلو منځونـو کـې د یـو بـل د وژلـو او مبـاح الـدم ګڼلـو احکـام نـه صادریږي، آیا هغوی په دین نه پوهیږي که موږ نه پوهیږو؟ آیا زمـوږ پـه ایمـان کې فرق راغلی دی او کـه دهغـوی پـه ایمان کې؟ زموږ مـسلمانی معیـاري نـه دی او که دهغوی مسلماني؟ دا ټول هغه

پوښتنې دي چې بایـد مـوږ وربانـدی غـور وکـړو او هغـه نقـایص او کمزورياني لری کړو چې وربانډې اخته شوي یو او پخپلو لاسـو خپـل ځانونه د هلاکت کندې ته غورځوو.

راځئ نور دغه لیونتوب پریږدو د اسلام، خـاورې او اولـس صـحیح خادمان شو، د الله جل جلاله د دین ربښتونی منونکي او سـپاهیان شـو د پردیو د غلامي زنځیرونه وشلوو، پخپلو کې خواږه ورونه او خواخوږی دوستان شو یو دریـځ او یـو شـعار خپـل کـړو پـه همـدې کـې زمـوږ خوشالي، پرمختګ، امن استقلال او سرلوړي مـضمر دی، لدینـه اخـوا نـور ټول کارونه زموږ د لاتباهي باعث ګرځي او د غلامـی پـه داسـی زنځیرونـو کې به تړل کیږو چې ټول عمر به ترینه ځانونه نه شو خلاصولی.

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: محمد خلیل

پخوانی نوم: میلکم ایکس - اسلامی نوم: ملک شهباز
پخوانی مذهب: عیسویت - د هیواد نوم: امریکا

دالحاج ملک الشهباز (میلکم ایکس) د اسلام قبلولو په زړه پورې کیسه

په امریکا کې د اسلام د خپراوي په حواله د میلکم ایکس نوم خورا مشهور دی. کله چې دغه ذهین او فطین تور پوټکی خوان اسلام ومنلو نو دهغه جادویی شخصیت او مسحورو خطبو د امریکا تور پوټکي وګړي خپل اثر لاندې راوستل او د لکونو په شمیر کې مسلمانان شول. ډېر افسوس چې باطلو قوتونو هغه ونه زغملی شو او د ځلوېښتو کلو په عمر کې یې په شهادت ورساو. خو د حیرانتیا خبره دا وه چې دهغه شهادت د اسلام د خپراوي لاره نوره هم پراخه کړه چې نن د میلکم ایکس په وینه د اسلام رڼا ترلاسه کوونکو خوشبختو کسانو شمیره لږ تر لږه ٤٥ لکو ته رسیدلې دی.

میلکم ایکس په کال ۱۹۲۵ م د امریکا مشي ګن په ښار کې زیږیدلی، دهغه پلار سخت عقیدوي عیسوي پادري و، ډېر اخلاقی انسان و خو سپین پوټکو عیسویانو به هغه ته په کمه سترګه کتل او هر وخت به ورته کړاوونه پیدا کول. د میلکم ایکس په وینا زما د پلار یواځینی ګناه داوه چې هغه د یو داسې تنظیم غړی و چې د تور پوټکو د حقوقو لپاره کار کاو. په هر حال میلکم ایکس د څو میاشتو ماشوم و چې توکم پرستو سپین پوټکو عیسویانو هغه وواژه. میلکم وایي چې زما د پلار له مرګ نه وروسته زما پالنه زما مور په غاړه واخست کله به چې ما خپل مور د سختو کارونو په ترسره کولو کې لیده نو ډېر زیات به وړاندی خفه کیدم.

میلکم ایکس لومړنی زده کړې د سپین پوستو په ښوونځي کې ترسره کړې خو هر وخت به سپین پوټکو زده کوونکو پر هغه ملنډې وهلې او سپک نظر به ورته کاو، په داسې حال کې چې هغه پخپل ټولګي کې ډېر زیات قابل و. د لومړنیو زده کړو له ترسره کولو وروسته له مشي ګن څخه بوسټن ته راغی هلته دهغه مشره خور اوسیده. هغه لیکي چې ما هلته لومړی په یوه نائټ کلب کې کار شروع کړ لیکن دا کار مې خوښ نه شو او د کلب دباندی مې د بوټانو د پالشولو کار پیل کړ ما دلته د امریکایانو فاسد اخلاق پخپلو سترګو ولید چې د قمار، شراب، زنا او نور ډول ډول ګناهونو کې ککړ وو، له بده مرغه زه هم په دغو ګناهونو کې ککړ شوم.

هغه لیکي: زما عقیده هم دا ګرځیدلې وه چې د خپل مقصد د ترلاسه کولو لپاره هر ډول دروغ، چل، مکاري او ظلم روا دی. زما په وړاندی د ښځې حیثیت د خوند د ترلاسه کولو پرته بل څه نه و.

یوه ورځ زه په داسې یوه ګناه کې ونیول شوم چې اصلاً مانه وه کړې او په دې جرم کې د لسو کلو لپاره په محبس کې واچول شوم. ما ولید چې محبس د ټولو جرمونو مرکز دی، خو الله تعالی زما د ښېګڼې اراده کړې وه، هلته څه خلکو د خیر ښېګڼې کارونه کول، له هغوی نه یو تن د عالي جاه محمد د تحریک یوه رساله راکړه دغه رساله زما په ژوند کې د انقلاب باعث وګرځید ما لدینه وړاندی نه د اسلام نوم اوریدلی و او نه مې له کوم مسلمان سره پېژند ګلوي و، د الله نوم ما یواځې په فلمونو کې اوریدلی و، لیکن د الله شکر دی چې په محبس کې مې د اسلام په باره کې څه نا څه معلومات ترلاسه کړ، د اسلامي تهذیب او تاریخ ډېر کتابونه مې ولوستل او د محمد صلی الله علیه وسلم د شخصیت او سیرت په باره کې مې هم ډېر کتابونه ولوستل، نتیجه دا شوه چې اسلام زما په زړه کې ځای پیدا کړ، ما ټول غلط او ګناه کارونه پرېښودل ان چې سګرت څکل مې هم پرېښوده په محبس کې مې اسلام ومانه او د ملک الشهباز نوم مې په ځان کېښود.

هغه لیکي کله چې زه له بندیخانې نه ووتلم نو زما حالت بالکل بدل و او د عالي جاه محمد د عقیدې پیروان وم، نوموړي د نسل پرست تور پوټکو د حقوقو تحریک پرمخ بوول خو د هغه عقیده له خانه جوړ شوې او ګمراه کوونکی و، دهغه عقیده دا وه چې د الله رنګ تور دی، جنت ته یواځې تور پوټکی خلک ځي، په سپین پوټکو جنت حرام دی، هغوی دا هم ویل چې شیطان سپین پوټکی دی، تور پوټکی خلک د الله دوستان دي او عالیجاه محمد د الله پیغمبر دی.

میلکم لیکي چې زه هم په همدې عقیده وم او همدیته مې اسلام ویل، خوله نیکه مرغه زما لیده کاته د سعودی سفارت له یو چکپوړي مامور سره وشوه، هغه ماته د قرآن کریم انګریزي ژباړه او نور څو اسلامي کتابونه راکړل، دهغوی په لوستو ماته دا حقیقت څرګند شو چې د عالیجاه محمد عقیده نه له اسلام سره څه اړیکه لري او نه هم دهغه په ژوند کې اسلام تر سترګو کیږي.

څه موده وروسته د سعودي عرب په بلنه بیت الله شریف ته ولاړم، هلته په مکه مکرمه او مدینه منوره کې مې د اسلام نوی دنیا ولیده، له ګردی زمکې څخه هر یو مسلمان چې مختلف رنګونه او مختلفی ژبې درلودلې په بشپړ یووالي د الله تعالی عبادت کاو او پخپلو کې له یو بل سره ډېره مینه او لورینه درلوده، ما د عالیجاه محمد عقیده بالکل پرېښود او ربښتونی اسلام مې خپل کړ.

له سعودی عربه له واپسی وروسته مې په امریکا کې د قرآن کریم او نبوی سنت فطري پیغام خلکو ته ورساو.

میلکم زبردست خطیب او مقرر و، دهغه په زړه کې د اسلام لپاره ډېر زیات اخلاص او جذبه موجوده وه، هغه به چې د اسلام ددین تبلیغ کاو نو د اوریدونکو زړونه به مسحور کیدل. پخوانی باکسر محمد علي کلید هم د میلکم په دعوت مسلمان شوی و.

د میلکم زیار او کوښښ رنګ راوړ او د عالي جاه محمد لکونه پیروان راسخ العقیده مسلمان شول هغه چې دا حالت ولید نو هغه د یو مکروه سازش په نتیجه کې میلکم یې په داسې حالت کې په شهادت ورساو چې یوې غونډی ته خطاب کاو.

دهغه مرګ اسلام او مسلمانانو لپاره ډېر لوی تاوان و، یو عرب سفیر دهغه په شهادت د افسوس څرګندولو په ترڅ کې وویل چې که موږ په ملیونو ډالر هم لګولي وای نو دومره تبلیغی اثرات به نه و مرتب شوي څومره چې د میلکم په کوښښونو مرتب شوي وو.

نوموړي د امریکا عمر فاروق ګڼل کیدو ځکه چې د عمر فاروق رضی الله عنه د اسلام له راوړلو نه وروسته چې څومره قوت اسلام ته رسیدلې و همداسې د میلکم د اسلام قبلولو په نتیجه کې هم په امریکا کې اسلام ته ورسید.

ملک الشهباز شهادت رنګ راوړ او په امریکا کې اسلام دومره غښتلی شو چې ان د عالیجاه محمد زوی هم د خپل پلار عقیده پرېښود او ربښتونی مسلمان شو، عالیجاه محمد هم له غم نه مړ شو او تحریک یې هم له منځه لاړ. دهغه زوی ویلس محمد د خپل پلار له خانه جوړ شوې عقیده رد کړه او د قرآن او سنت د پیروي کولو اعلان یې وکړ. نن سبا په امریکا کې حالت تر دې کچه رسیدلی چې د میلکم په تنظیم کې له شپیته لکو نه زیات مسلمانان دي، په ځانګړې توګه په محبسونو کې د اسلام دین په تیزی سره خوریږي هره ورځ لسګونه بندیان د اسلام په دین مشرف کیږي او دهغوی په ژوند کې یو لوی انقلاب راځي.

که څه هم الحاج ملک الشهباز د اسلام د خپراوي له پاره خپل ځان قربان کړ خو دهغه د وینې هره یوه څاڅکی د روښنایی ځلې جوړه شوی چې د امریکا هره څنډه روښانه کوي.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال

مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

امن هسې په تشو خبرو نه راځي

محمد خلیل

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

له دې مسلم حقیقت نه هيڅوک انکار نشي کولې چې د يو هیواد ولس له پاره امن د ملا تیر حیثیت لري، چېرته چې امن وي هلته سکون، خوشالي، خندا، پرمختګ، پوهه، هنر او نور راز راز ګټې وي، هر چېرته چې امن کډه کړی وي او هر لوری بدامني خپلې وزرې غوړولې وي هلته بیا له پریشاني، غربت، ناپوهي، ژړا، ویر، ګدایی او بدمرغی پرته بل څه په نظر نه راځي.

موږ پخپلو غړیدلو سترګو ولیدل چې په کومو هیوادو کې امن دی هلته په تېرو دریو لسیزو کې زړه پورې پرمختګونه شویدي، دهغوی په ژوند کې لوی انقلاب راغلې او له زمکې نه آسمان ته رسیدلي دي د لریو واټن ویشتونکو توغندیو، جنګي الوتکو، چورلکو، ټانکونو، څو مخیزو سړکونو، او ډېرو غټو صنعتونو مالکان شوي دی. د افغانستان اولس چې د تیرو څو لسیزو راهیسې د امن له اوچت نعمت څخه محروم دی د ژوند له ټولو خوږو او پرمختګونو څخه هم بې برخې دي. د ژوند داسې ځانګه نشته چې په هغې کې له کړاوونو او نیمګړتیاو سره لاس او ګریوان نه وي. دا هر څه موږ ته همدا یو پیغام راکوي چې په کومو هیوادونو کې پرمختګ شوې او دهغوی په ژوند کې د خوښې وړ انقلاب راغلی دی هغوی په حقیقت کې د امن قدر او د جنګ تباهي پیژندلې، له جنګ جګړو یې ډډه کړی او د امن د قیام لپاره له بشپړ زغم نه کار اخستې او ددې د تحقق لپاره نه ستړی کیدونکې هلې ځلې کړي دي.

د سولې او امن د قیام لپاره ضروري دي چې د خپلو خپلو اناګانو، ځان غوښتنو او لویې غوښتنو پر وړاندې اوسپنیز دیوال ودرول شي. او نفساني غوښتنې مهار کړي شي، تر څو پورې چې د امن د قیام لپاره د خپلو نفسونو قرباني ورنکړئ شي د امن مخ لیدل ناشونی دی. ځکه خو د ګردو هیوادو حکومتونو لومړنی ترجیح دا وي چې پخپل هیواد کې امن قایم کړي او له دې لارې د پرمختګ پړاوونه ووهي.

د امن قیام په هغه صورت کې شونی کیږي چې د هیواد ولسونه د اختلاف او افتراق له ناروغی نه پاک شي، له هر ډول تعصب او تبیعض نه کلک پرهیز وکړي او ټول د ورور ګلوي په فضا کې ژوند ترسره کړي. د چارواکو او اولس ترمنځ بې باوري او کرکې ماحول نه وي بلکې پر یو بل باوري او پخپلو کې خواخوږي وي، ولس د خپلو چارواکو ملاتړ وي او چارواکی د خپل ولس خدمتګار وي، چارواکی له خپل ولس نه ځان جلا ونه ګڼي او ولس د خپلو چارواکو نه، بلکې ټول د یو مشین د پرزې په څیر د یو هدف لپاره متحرک وي. تنقید د تنقید لپاره نه بلکې د اصلاح په غرض وي تر څو کولای شي د سالم تنقید له لاری نیمګړتیاوی لیرې او په هر څه سم سمکی راولي.

د افغانستان اولس چې د څو لسیزو راهیسې د امن له لوی نعمت څخه بې برخې دي او هره ورځ د بې امنۍ وژونکی زهر څکي باید دا حقیقت درک کړي چې امن ددوی ستر ضرورت دی. که چېرته واقعاً د نړۍ په سر خوشال، سرلوړې او پرمختللی ژوند غواړي نو بیا د نه منم له غونډۍ نه ورته کوزیدل پکار دي، چارواکو ته هم له هر ډول ضد او تکبر څخه لاس اخستل ضروري دي او ولس ته هم د خپلو چارواکو په خلاف له ناروا اختلافاتو څخه ډډه کول لازمي دي، نه دی چارواکی خپل ځانونه من وګڼي او نه هم اولس په نه خبره په ناحقه خپل چارواکی د تهمت په نیزه وخیژوي ټولو ته پکار دي چې د ولس د یووالي او د اختلافاتو د ختمولو لپاره ګډې او منسجمې هلې ځلې وکړي. هیڅوک دې خپلې ذاتي ګټې په پام کې ونه نیسي بلکې هر افغان دی د خپل هیواد مجموعي او هر اړخیزې ګټې په نظر کې ونیسي.

که افغانان واقعاً ددغو کارونو په ترسره کولو کې بریالي شي نو له څه شک پرته په افغانستان کې قوي امن راتلای، او اولس ددغه امن په برکت د خوشال، آرام او سرلوړی ژوند خاوندان کیدلې شي.

استراتيژي بريتانيا در رابطه با افغانستان تغيير نخواهد كرد

لندن، رسانه ها:

وزیر امور خارجه انګلیس اظهار داشت استراتیژی دولت ائتلافی جدید این کشور در قبال افغانستان همچنان بدون تغییر باقی خواهد ماند.

خبر گزاري "ريانووستي "گزارش می دهد که "ویلیام هیګ "، وزیر امور خارجه انګلیس اظهار داشت، دولت جدید ائتلافي انګلستان و دولت افغانستان در خصوص روش بازسازي افغانستان توافق دارند و استراتیژي لندن در رابطه با کابل در آینده نزدیک تغییر نخواهد کرد.

رسانه هاي انګلیسي به نقل از هیګ نوشتند: من فکر مي کنم، دولت ما درک قوي و متقابل کافی درباره چګونګي پیشرفت دارد، به همین دلیل افغانستان دولت جدید انګلیس را دوستي قابل اعتماد مي‌بیند که مي تواند از عهده دشواري‌هایي که در منطقه با آن برخورد مي کنیم، بر آید.

علاوه بر آن وي اظهار داشت، تغییرات اساسي استراتیژي در رابطه با افغانستان وجود نخواهد داشت، وي خاطر نشان کرد، اخیراً سیاست ها در قبال مشکلات افغانستان با تلاش‌هاي جدید "باراک اوباما "، رئیس‌جمهور امریکا ، و همچنین پس از بر گزاري کنفرانس افغانستان در لندن در ماه جنوری با ریاست "گوردون براون "، نخست وزیر سابق انګلیس، متحمل تغییرات شده است.

هیګ افزود: ما مي‌خواهیم به این استراتیژي زمان بدهیم و از آن حمایت کنیم تا بتواند تلاش‌هاي ما را به جلو ببرد.

وزیر امور خارجهء انګلستان همراه با وزراي دفاع و توسعهء بین‌المللي این کشور، روز شنبه به افغانستان سفر کردند.

نگرانی ارتش امریکا از حملهٔ ...

در حمله انتحاری ګروه ۲۰ نفره از نیروهای طالبان به پایګاه نظامی امریکا در بګرام افغانستان، بیش از ۱۲ نفر از نیروهای طالبان که کمربندهای انفجاری خود را منفجر کردند کشته شدند و همچنین یکی از نیروهای خارجی مستقر در این پایګاه نظامی به کام مرګ فرستاده شد.

عملیات نظامی بخاطر بیرون ...

نیروهای امریکایي از سایر نقاط افغانستان در جولای ۲۰۱۱ آغاز خواهد شد یا خیر.

در حالیکه عملیات نظامی در ولایت هلمند ادامه دارد، پلان پیاده کردن عساکر بیشتر در مناطق شمال و شرق افغانستان روی دست است. ولی اګر خبر عملیات در قندهار قناعت بخش نباشد، پیاده ساختن عساکر بیشتر در سایر نقاط از ارزش کم تر برخوردار خواهد بود.

به نوشته واشنګتن پست، عملیات راکتی و زمینی بی سابقهء طالبان بالای میدان هوایی قندهار که بزرګ ترین مرکز نظامی ناتو در جنوب افغانستان می باشد، نشان دهنده میزان مشکلات این عملیات است. میدان هوایی قندهار مرکز عملیات ګسترده در قندهار می باشد.

در نتیجه عملیات راکتی که شب شنبه به وقوع پیوست، چندین تن از عساکر قوای ایتلاف و کارمندان ملکی زخمی شدند، ولی شورشیان که قصد داخل شدن به پایګاه نظامی را داشتند، ناکام ماندند.

واشنګتن پست می نویسد، عملیات در قندهار ترکیبی از فعالیت های نظامی و ملکی می باشد.

به ګفته هیلاری کلنتن وزیر خارجه امریکا، هیچ تانک در داخل شهر قندهار ګشت و ګذار نخواهد کرد. علاوه بر آن، به خاطر نجات قندهار از وجود تندروان مسلح، تلاش صورت خواهد ګرفت تا این شهر ویران نشود.

عملیات در زمستان سال ګذشته شکل ګرفت و قوای خاص نیروی های ایتلاف رهبران طالب را یا به قتل رساندند و یا دستګیر کردند. طالبان نیز به نوبهء خود قتل افراد را که براي خارجی ها و یا حکومت افغانستان کار می کردند، آغاز کردند.

در عین حال کارمندان ملکی امریکا تلاش دارند تا عدم توازن قدرت در قندهار را که در حال حاضر به نفع یکي از اقوام است، اصلاح سازند. بدین معنی که آنها پلان ایجاد ۱۰ واحد اداری را در این ولایت دارند تا به نماینده ګان هر یک از شوراهای محلي این واحد ها پول در اختیار ګذاشته شود تا آن را به مصرف برسانند.

به نوشتهء واشنګتن پست، موفقیت عملیات به طور مبهم تعریف شده است و اندازه پیشرفت از طریق نظر سنجی ها افکار عامه و میزان داد و ستد تجارتی در سرک ها ارزیابی می شود.

تعریف مردم از ایجاد تعادل بین فعالیت های نظامی و ملکی با نوسانات همراه بوده است. مردم که در منطقه زنده ګی می کنند بیشتر موقف خصمانه نسبت به مداخله خارجی ها و حکومت کابل داشته اند، نه علیه طالبان.

در عملیات قندهار وحدت نظر بین حکومت افغانستان و قوای به رهبری امریکا نیز وجود ندارد.

در ماه ګذشته یکی از مقامات ارشد نظامی امریکا به خبرنګاران ګفت، عملیات پاک سازی در ولسوالی های ژیری، ارغنداب و پنجوایی صورت می ګیرد، جای که طالبان در آن نفوذ دارند.

ولی هفته ګذشته رییس جمهور کرزی ګفت، عملیات نظامي فقط در جا های صورت می ګیرد که لازم باشد آن هم به مشوره با مردم محل.

با وجودی که امریکا تعهد کرده تا در هر اقدام با رییس جمهور کرزی مشوره کند و کرزی نیز تعهد مشابه به مردم قندهار کرده تا با آنها مشوره صورت بګیرد، یک مساله مبهم باقی مانده و آن این که آیا مشوره مساوی به ویتو یا رای مخالف است یا خیر.

«همکاری برای قندهار» نامی است که برای عملیات در این ولایت انتخاب شده است. این نام با احتیاط کامل انتخاب شده است، زیرا کلمهء عملیات خشونت توصیف می شود که در ذات خود مشکل آفرین می باشد.

ولی صرف نظر از انتخاب نام، عملیات در قندهار خطرات را با خود دارد. به ګفته بعضی تحلیل ګران، یکی از مشکلات و خطرات عمده عملیات قندهار تخصیص مصارف هنګفت امریکا در قندهار از طریق «یو، اس، اید» یا اداره انکشاف بین المللی امریکا می باشد که به عوض آوردن ثبات، ممکن سبب بی ثباتی شود.

این تحلیل ګران به استناد تحقیقات انجام شده استدلال می کنند که کمک ها ممکن سبب فساد اداری بیشتر شود و در نتیجه ماشین جنګی طالبان بیشتر فعال خواهد شد.

یکی از مشکلات دیګر که در قندهار وجود دارد، عدم موجودیت افغان های کار فهم است تا برای حکومت افغانستان در قندهار کار کنند. دلیل آن این است که بیشتر افغان های کار فهم و شایسته توسط ادارات امریکایی استخدام شده اند.

نادر فرهاد: له ایران او پاکستان ...

ویاند نادرفرهاد څرګنده کړه، له دغو ټولو ستونزو سره سره د تېر میلادي کال په مقایسه سږ کال له پاکستان څخه د افغان مهاجرو په بېرته ستنېدو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی او ښایي چې علت یې په نوموړي هېواد کې د افغان کډوالو لپاره شته ستونزې وي:

"افغان کډوال د بېرته راتګ لپاره بېلابېل دلایل وړاندې کوي، ځینې وایي، چې په هیواد کې شرایط ښه دي، یوشمېر نور وایي چې په ایران او پاکستان کې ورته ستونزې ډېرې دي ځینې نور نورو ستونزو ته ګوته نیسي.

په عین حال کې د ځینو افغان کډوالو لپاره په بهرنیو هېوادونو په ځانګړې توګه پاکستان کې له هره پلوه ستونزې هم ډېرې دي."

ښاغلي فرهاد وویل، چې له پاکستان سره د یوې نوې موافقې پراساس افغان کډوال کولای شي په نوموړي هېواد کې د نورو دریو کلونو لپاره هم په قانوني ډول پاتې شي.

بل خوا د افغانستان د کډوالو او بېرته راستنیدونکو چارو وزارت ویلي، چې هغه روانه ده له بهرنیو هېوادونو څخه راستانه شوو افغانانو ته د ژوند ښه شرایط برابرشي، د دې وزارت چارواکي وایي، چې په ډېرشمېر ولایتونو کې د بېرته راستانه شوو لپاره ځانګړي ښارګوټي جوړ او هغوی ته په کې د کور جوړولو لپاره ځمکې ویشل شوي او دا لړۍ به دوام وکړي.

خو راستانه شوي کډوال وایي، چې د دغو کورونو د جوړولو لپاره مالي او نورامکانات نه لري.

کوچیان: موږ به هیڅکله د هزاره ...

حکومتي ادارو ته سپارښتنه شوې چې کوچیانو ته دې د میشتېدنې لپاره ځمکې ورکړل شي.

د دغه فرمان په یوې برخه کې چې د تېرې پنجشنبې په ورځ د کورنیو چارو وزیر محمد حنیف اتمر خبریالانو ته ولوسته، راغلې دي:

(کوچیان دې پرته له کوم شرطه د دایمیرداد، تیزک او کجاب سیمې او کلي پریږدي. د کوچیانو د میشتولو لپاره د ځمکو د ویش لپاره د وزیرانو د شورا د پریکړې او د ولسمشر د فرمانونو په اساس یو ځلې بیا د کرنې او مالداری، کورنیو چارو وزارتونو او د محلي ارګانونو خپلواکي ادارې ته یو ځلې بیا لارښوونه کیږي، چې په درېو میاشتو کې د کوچیانو د میشتیدنې او ژوند لپاره د ځمکې د ویشلو کار پیل کړي.)

که څه هم د ځمکو او څړځایونو پر سر د کوچیانو او هزاره و ترمنځ د لانجې د حل لپاره یو ځانګړی دولتي کمیسیون هم کار کوي خو بیا هم په دولت انتقاد کیږي چې تراوسه پورې د مسئلې په دایمي حل نه دی توانیدلی.

د دواړو خواو سختو دریځو ته په کتو سره داسې ښکاري چې دولت به د ولسمشر د نوي فرمان په عملي کولو کې هم له جدي ستونزو سره مخ شي.

روسيي امريكا ته د نشه يي توكو ...

د دې لابراتوارونو له منځه وړل یوه سمدستي دنده ده، چې باید ترسره شي ځکه د ده په وینا دا هغه منظم کاروبار دی چې د نشه یي موادو د تولید لپاره منظمې مرتبې او تشکیلات، د تمویل سرچینې او تخنیکي امکانات لري.

ایوانوف زیاته کړه، چې په روسیه کې له همدې هیروینو څخه په کال کې ۳۵ ټنه مصرفیږي.

ایوانوف له مخدرومودادو سره د مبارزې په چاره کې د واشنګټن او مسکو د همکارۍ د ستاینې ترڅنګ په افغانستان کې د امریکا په مشرۍ د نړیوال ائتلاف پر ځواکونو له دې کبله انتقاد وکړ، چې د ده په وینا د تریاکو د زیاتېدونکي تولید په مخنیوي کې پاتې راغلي دي.

ده وویل چې د نړۍ د هیروینو په سلو کې پنځه نوې د افغانستان له تریاکو څخه تولیدیږي او دا اندازه د هغو هیروینو دوه چنده ده چې لس کاله مخکې په ټوله نړۍ کې تولیدېدل.

ایوانوف زیاته کړه، د کوکنارو د بوټي له مینځه وړل د هغو عملیاتو په پرتله ډېر ارزانه تماميږي، چې وروسته د برلین، روم، لندن، مسکو او نورو ښارونو په واټونو کې د هیروینو د نیولو لپاره کېږي.

د روسیې د مخدرو مواد ضد ادارې مشر ویکتورایوانوف وویل، چې د کرېملین له خوا به د روان کال د جون په نهمه او لسمه په مسکو کې یوه نړیواله غونډه جوړه شي.

د ده په وینا روسیه به خپلې اندېښنې په دې غونډه کې مطرح کړي او له مخدرو موادو سره د مبارزې په برخه کې به د یوه نړیوال ائتلاف د جوړېدو غوښتنه وکړي.

روسیه هغه هېواد دی چې د مخدرو موادو، په خاص ډول د هیروینو ترټولو ډېر استعمالوونکي لري. ولسمشر دیمتري مدوېدېف د روسیې په ځوان نسل کې د نشه یي موادوزیات استعمال د خپل هېواد د ملي امنیت لپاره ترټولو لوی ګواښ بللی.

بريتانيا در تلاش براي رهايي ...

این در حالي است که کارل تئودور ګوتنبرګ وزیر دفاع آلمان طي اظهاراتي در زمینه حضور نظامیان خارجي در افغانستان، به کشورهاي درګیر در خصوص عدم عقب نشینی سریع از خاک افغانستان هشدار داد و ګفت این امر باعث بروز مجدد هرج و مرج در این کشور خواهد شد و اګر افغانستان را از دست بدهند، کشور پاکستان که صاحب سلاح هاي هسته اي مي باشد را نیز از دست خواهند داد و وي مایل نیست این سلاح ها بدست تروریست ها بیافتند.